مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبیدالله نادر ۲۰۲۲/۰۵/۱۲

# د بشر له پاره

## د نړۍ د ستر او حیرانونکي تلسکوپ (جیمزوب) پیغام

ځم له دې فضا او ماورا نه لیرې ،هلته چې ځوک په وهم او خیال کې هم نشي ورتلای ،ځم چې د عالم هستی اسرار کشف کړم ،ځم داسی ځای ته چې ،د دې عالمِ بشریت له دومره پرمختګ سره سره بیا هم، ماته لاس رسی نه وي ،زما د بیا جوړولو او رغاولو به د دې بشر سره نور هیڅ وس او توان نه وي ، او نه به ماته بشر راتلای شي ،ځکه زه به ډیر لیرې د دې خاورین ځمکې نه د لمر په مدار کې قرار لرم ، زه به هلته د پټو او پوشیده اسرارو لټون وکړم ،زه به په ډیر کم وخت کې ،د جهان هستی ډیر اسرار بربنډ کړم ،زه به هغه حیرانونکي تصویرونه ولیږم ، چې د نجوم او د علم خاوندانو د پاره په کې ډیر څه وي ، زه به یو تحول او بدلون د فضا او نجوم په برخه کې راولم ،زه به په دې مجهزه او پرمخ تللی تکنالوژۍ چې زه یې لرمه هغه څیرنې وکړم ، چې تر اوسه هیڅ تلسکوپ نه وي کړې ، زه به ډیر تیاره کنجونه د کایناتو ، او د کایناتو د فلسفی روښانه کړم ،زه به ډیری پټې خبری ،چې د اهلِ ذوق او د نجوم د علاقه مندانو د پاره په زړه پورې وي ،او وریسی ګرځې هغه رازونه او اسرار بربنډ کړم ،زه به ډیر لوی ستر او پیچلي موضوعات د عالم هستی څخه د بشر تر فهمه خلاصه کړم ،تر هغه اندازې بوري چې انساني عقل یې تحلیل کولای شي ،ځکه د دې پراخه نظام تحلیل او پرې پوهیدل لوی عقل و فکر غواړي ،زه به په کهکشانونو کې د حیات د موندنې پلټنې وکړم ،او په ستورو کې به د ځرنګوالي هم معلومات تر لاسه کړم ،زه به ډیر حرکات د عالمِ کیهان او ستورو او کهکشانونو ثبت کړم ، زه به وروسته د یو اوږود مزل یا د یو اوږود واټن د پی کولو څخه د یو نه جذبیدونکی مدارپه ماحول کې، قرار او آرام ونیسم ،او هلته تم شم، او خپل تحقیق به به رڼو سترګو پیل کړم ، چې د راتلونکی بشر د پاره یو علمی زیرمه وي ،زه به هغه څه په کایناتو کې وڅیرم ، چې چا تر اوسه نه دي څیرلي ،او هم نه دي پرې پوهیدلي ،زه به په خپلو طاقت ورو او د بشر په لاس جوړو سترګو باندی د کایناتو په زړه کې نظر واچوم ،او د عالم هستی رازونه به د بیله څخه تر ننه پورې تر هغه اندازې وڅیرم ،چې د جهان مبدأ ښکاره شي ، زه به د بشر د پاره د حیات او نوی ژوند امکان په کایناتو او ستورو کې و لټوم ،تر څو د حیات امکان پیدا شي ، خو تا سو عالمِ بشریت ته می خواست او توصیه دا ده ، چې په سوله کې ژوند وکړئ، ځکه د سولې د سیورې لاندی کولای شئ چې په علمی نړۍ کې پرمختګ وکړئ،او ځوانان که انجونې دي که نارینه د علم او معرفت خواته وهڅوئ ، خپلې علمی زیرمی ، وساتئ او د علم او فن په نړۍ کې خپلې څیرنې پراخې کړئ ،چې د الله تعالی د هستی دا نظام ډیر پراخه دی ، او پراخه څیرنې غواړي.

دا بدلون په داسې حال کې شوي چې مونږ په دې اته او یا نهه میاشتو د طالبانو په حکومت کې د انجونو د مکتبونو د تړلو شاهدان یو ، او تر ننه پورې یو پایلې ته ورسره نه یو رسیدلي تیرکال د ۲۰۲۱ کال د دسمبر په ۲۵ د نړۍ لوی او ستر تلسکوپ د ګڼو علمی تحقیقی ، او فضایی څیرنو د پاره فضا ته ولیږدول شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ